# په ژورنالیزم کې د ادب ارزښت

## The Importance of Literature in Journalism

راضيه نوري*

**Abstract:**

This paper sheds light on the importance of literature in journalism. It is a known fact that journalism and literature are the two sides of the same coin and their separation from each other is impossible, but there are some differences between the two terms. In the case where there is not the beauty of literature in journalism, it would appear like a leaves-free tree. Therefor it is important for a journalist to be equipped with the art of literature, so that his journalistic work is acceptable to people and society.

**Keywords :** literature, journalism, separation, society.

**متن**:مخکې لهٔ هغه چې پر خپلې آرې موضوع څه ووایو، بې ګټې به نهٔ وي د ژورنالیزم او ادب لنډې تعریفونه هم وړاندې شي، چې له پیله د ژورنالیزم او ادب بېلتون او نږدیوالي ته متوجه واوسو.

**ژورنالیزم**: ژورنالیزم ته پهٔ عربي کښې صحافت هم وايي. صحافت لهٔ «صحف» څخه اخیستل شوې کلمه ده چې لغوي معنا يې د کتاب او رسالې مخونه (صفحې) دي.

" پهٔ انګرېزي کښې د دې متبادله کلمه جرنلیزم Journalism دی چې لهٔ Journal څخه اخیستل شوې کلمه او د ورځني حساب یا ورځني یادښت پهٔ معنا ده. پهٔ اصطلاح کښې ژورنالیزم هغه ټول اجزا رانغاړي چې لهٔ هغو څخه خبرونه او خبري تبصرې عامو خلکو ته رسېږي". (۱)

"لیزلي "ستیفن" ژورنالیزم داسې راپېژني: ژورنالیزم د هغو چارو د لیکلو د ګټې نوم دی چې پهٔ اړه يې تاسو هیڅ نهٔ پوهېږئ".(۲)

**ادب**: د ادب د کلمې پهٔ اړه پوهاند صدیق الله رښتین داسې څرګندونې لري:

"د عربو پهٔ لغت کښې د پوهې، ځیرکۍ، بلنې او د هر شي د اندازې ساتلو پهٔ معناوو راغلی دی. پهٔ اصطلاح کښې ادب پر دوه ډوله دی، يو نفسي ادب دی چې اخلاقي فضیلت او ښېګڼې ته او بل پهٔ ښه طریقه ویلو، لیکلو او خپل مطلب ښکاره کولو ته ادب وايي". (۳)

" ادب يو ژبنی هنر دی چې واقعیتونه پهٔ انځورونو کښې وړاندې کوي، له انځور، تصویر یا ایماژ څخه مقصد دا دی چې ادب واقعیت کټ مټ او نېغ پهٔ نېغه نهٔ بیانوي، بلکې د ادبي اثر د لیکونکي له خوا پهٔ ښکلي او احساس پاروونکي ډول وړاندې کېږي".(۴)

* Assistant Professor, Academy of Sciences Kabul, Afghanistan

که پورتنیو تعریفونو ته ځیر شو، ژورنالیزم او ادب سره ډېرې نږدې او نۀ پرې کښېدونکې اړیکې لري، اما له دې اړیکو او نږدېوالي سره سره پۀ خپلو کښې توپیرونه هم لري، چې ځینو ته یې دلته اشاره کوو:

**د ژورنالیزم او ادب توپیر**:دا مهال د ژورنالیزم او ادب ترمنځ ځرګند توپیرونه شته دي؛ نو موږ نشو کولای یوازې د هغو ګډو ټکو پر بنسټ چې په خپلو منځو کې یې لري دواړه یو شی وګڼو. د ژورنالیزم او ادب د ګډو ټکو او ارزښتونو سره سره، دواړه بیا هم څه ناڅه توپیرونه لري چې ځینې یې دا دي:

- په ژورنالیزم کې رښتینولي بنسټیز ارزښت لري. یعنې په ورځپاڼو او نورو رسنیو کې چې څه شی چاپېږي یا خپرېږي هغه باید رښتیني او حقایق وي او په ناپېیلې توګه وړاندې شي. یعنې په ژورنالیزم کې د پېښو رښتینولي حتمي ده خو په ادب کې حتمي نه ده. په ژورنالیزم کې حقایقو ته زیات اهمیت ورکول کېږي، هغه څه چې د راډیو پر څپو خپرېږي او یا د ورځپاڼو پر مخونو لیکل کېږي، باید حقایق وي او که لیکل شوي مطالب یا د راډیو پر څپو خپاره شوي موضوعات رښتیني نه وي، دغه راډیو یا ورځپاڼه د وګړیو تر منځ خپل باور له لاسه ورکوي او وګړي بیا نوموړې ورځپاڼه نه لولي او دغه ډول راډیو ته د غوږ نیولو زحمت نه باسي یعنې په ژورنالیزم کې خیال هیڅ ځای نه لري. خو د ادیب لپاره ضروري نه ده چې لیکنې یې پر حقایقو ولاړې وي. ادیب ځینې وخت خیالي ناولونه او کیسې لیکي او ځینې وخت یې لیکنې بیا پر حقایقو هم ولاړې وي.
- ژورنالیزم حقایق په ناپېیلې بڼه وړاندې کوي او په ادب کې ناپېیلتوب شرط نه دی".(۵)
- اوسمهال په دې ټینګار کېږي چې په ادب کې بیانېدونکې پېښې باید غیرفطري نه وي؛ خو حتمي نه ده چې په داستاني ادب کې کومې پېښې وړاندې کېږي، هغه دې هرومرو پېښې شوې یا دې په حقیقي ژوند کې موجودې وي. یعنې په ادب کې د دغو پېښو رښتینولي حتمي نه ده؛ په دې شرط چې غیرطبیعي نه وي.
- شعر چې د ادب یوه درنه برخه ده زیاتره خیالي او بنسټ یې پر واقعیت ولاړ نه وي. شاعر مبالغه کولای شي، فرضي پېښې بیانولی شي او خپل خیال د یوه نظم په بڼه هم وړاندې کولی شي. په شاعرۍ کې د خیالونو او اندونو ترتیب هم اړین نه ګڼل کېږي؛ خو په ژورنالیزم کې مبالغه، خیال او بې ترتیبي ځای نه لري.
- ژورنالیزم او ادب د وخت او زمان له مخې هم توپیر لري. په ژورنالیزم کې د پېښو او حالاتو نویوالی بنسټیز شرط دی. په ورځني ژورنالیزم کې نویوالی یا مهالنی نږدېوالی لازمي دی. له دې امله د خبر یو تعریف دا دی: «د په زړه پورې پېښو ژر او ناپېیلی بیان» که خبر ژر بیان

نه شي، نو نوښت او خبري ارزښت يې له منځه ځي. د تېرو ځلېرويشتو ساعتونو پېښنه په ورځپاڼه کې د خبر په بڼه نه خپرېږي، ځکه په ځينو پرمختللو هېوادونو کې ورځپاڼې د ورځې څو ځله چاپېږي، لکه: سهارنۍ، غرمنۍ او ماښامنۍ. همدارنګه په غرمنۍ ورځپاڼه کې د سهارنيو او په ماښامنۍ ورځپاڼه کې د غرمنيو پېښنو خبرونه نه خپرېږي.

د خبرونو په څېر د ځيرنو، سرليکنو اوخبري ليکنو پر وخت او ځای خپرول هم اړين دي؛ په کومه مهمه تازه پېښنه که تبصره پر وخت خپره نشي نو ګټورتوب يې له منځه ځي.

د دې پرعکس په ادب کې د تازه والي يا مهالني نږدېوالي بنديز نه وي. دا سمه ده چې ادب بايد د خپل وخت ښکارندوی وي. اړينه نه ده چې اديب هم د ژورناليست په څېر د هرې پېښې په اړه سملاسي غبرګون وښيي. ځکه اديب کولی شي څو اونۍ، مياشتې او کلونه وروسته د تېرو پېښنو په اړه خپل غبرګون وښيي، يعنې ليکنه وکړي. د بېلګې په توګه د جنګ پر مهال په ورځپاڼو کې هره ورځ د يوې او بلې غاړې د برياوو او ناکاميو خبرونه خپرېږي؛ خو اديب د جنګ پر مهال يا د جنګ له پای ته رسېدو وروسته هم جګړه غندلی يا ستايلی شي.

- د ادبي او ژورناليستي ليکنو په پنځونه کې هم توپير وي. ژورناليست هره ورځ يا پر ټاکلي وخت خپل کار کوي، د خبرونو برابروونکي په څو ساعتونو کې زيات خبرونه برابروي. سرمقاله ليکونکي پر ټاکلي وخت سر ليکنه ليکي او هغه هم دومره چې ټاکلی ځای ډک کړي. لنډه دا چې ژورناليست د بيړې له امله د فکر کولو، کلمو غوره کولو او جملو جوړولو لپاره ډېر وخت نه لري، له همدې امله د هغوی په ليکنو کې يو ډول برسېرنتوب، له اړتيا ډېره ساده ګي او لنډون موجود وي.

"اديب په بيړه کار نه کوي، هغه په خپله خوښه ليکنې کوي؛ نو د خپلو پنځونو په ښکلي کولو څو ورځې لګولی شي. څرګنده ده چې په بيړه او په سوچ- فکر په ليکل شويو ليکنو او خبرو کې توپير وي. ادبي پنځونې په ارامۍ او د ژورناليزم هغه په بيړې سره پنځېږي".(۶)

- د ادب او ژورناليزم يو توپير دا هم دی چې اديب نړۍ يا خپلې ټولنې ته د خپل فلسفي ژوندانه له زاويې ګوري. هغه مؤمن هم کېدای شي او ملحد هم. هغه په پنځونو کې د خپل ژوند فلسفه څرګندولی شي؛ خو په ژورناليزم کې د ژوند د فلسفې پر ځای قانون، پوهه او پاليسي چلېږي".(۷)
- په ژورناليزم کې په عارضي او ورځنيو مسايلو بحث کېږي، د دې پرعکس په ادب کې عموماً په خپلواکو او همېشنيو ارزښتونو بحث کېږي".(۸)

نو د اديب فکر ځانګړی وي او د ژورنالیست ټولنیز. په بله وینا په ادب او ژورنالیزم کې هماغه توپیر وي کوم چې په ځانګړتوب او ټولنیزوالي کې وي.

- ژورنالیست چې څه لیکي هغه د ټولنې د ټولو وګړیو لپاره وي؛ نو ژورنالیستیکي ژبه باید د عامه پوهاوي وړ وي. ادبي لیکنې د خاصو ګړیو لپاره وي نو که عام ولس پرې پوه نه شي دا د لیکنې نیمګړتیا نه شي ګڼل کېدی، بلکې کله خو یې په ښېګڼې هم دلالت کوي. ژورنالیستیکي ژبه لنډه، ساده او سیده وي، ژورنالیست مهمې پېښې په لنډو عباراتو او عام فهم د لوستونکیو مخې ته ږدي، خو په ادبي لیکنه کې ادیب د اصلي پېښو له وړاندې کولو وړاندې ډېرې نورې خبرې لیکي او په پای کې بیا اصل خبرې ته راځي.
- اديب په خپله لیکنه کې له ادبي صنعتونو څخه ډېره ګټه اخلي او همدغه ادبي صنعتونه یې لیکنې ته ښکلا او جذابیت بخښي. ادبي صنعتونه د ادب اصلي او اساسي توکي دي له دې پرته ادب بې خونده، پیکه او نیمګړی وي. خو دا هم نشو ویلی چې ادبي صنعتونه په ژورنالیستیکه ژبه کې بېخي د کارولو وړ نه دي. له تشبیه، کنایې، مجاز او نورو څخه کله کله په ژورنالیزم کې هم ګټه اخیستل کېږي او وینا او لیکنه په زړه پورې کوي. یعنې د ادب ژبه د یوه حقیقت د تمثیلولو لپاره د الفاظو قیمتي تابلو جوړوي. خو د مطبوعاتو ژبه د هماغه حقیقت مستقیمه عکاسي کوي.

لکه چې پورته ورته اشارې ه وشوې ژورنالیزم او ادب سره لاژم او ملزوم دي. دواړه نه پرې کېدونکې اړیکې لري او دواړه داسې دي لکه د یوې سکې دوه مخونه، ځکه خو لاژمه ده چې په ژورنالیزم کې د ادب ارزښت یوه لنډه کتنه وکړو.

**په ژورنالیزم کې د ادب ارزښت**:

"وايي معیاري ژورنالیزم د انسانانو د ستونزو او مسایلو د پېژندلو او هواري د هڅې نوم دی، یعنې د لوړې کچې د ژورنالیزم موخه د خلکو خدمت دی".(۹)

او ادبیات د ذهن او تخیل د هنري الفاظو هغه زېږنده ده چې انسان ته د بشري ژوندانه نیمګړتیاوې وړپه ګوته کوي او د هغو سمون ته یې هڅوي؛ نو د دواړو موخو ته په کتنې ویلی شو چې ژورنالیزم او ادب دواړه د ټولنې د سمون، نېکمرغۍ او هوساینې لپاره کار کوي.

د ادب د ارزښت او ښېګڼې په اړه په ولس کې یو ډېره ژوره او له معنی ډکه جمله شته چې وايي:

" وخوره او ډک شه یو شی دی؛ خو یو زړه نرموي او بل دردوي"

له پورتنۍ جملې دا ثابتېږي چې ادب په مقابل لوري ژوره اغېزه کوي، په "وخوره" چې د ست او بلنې ادبي امر دی انسان پرې خوښېږي؛ خو په "ډک شه" خواشینی او غصه کېږي ځکه چې ادبي امر نه

دی، ؛ نو که چېرې يو ژرنالیست په خپلو لیکنو او ویناوو کې له هنر او ادبي ښېګڼو ګټه واخلي، څرګنده ده چې لیکنې او ویناوې مؤثرې او اغېزناکې کېږي.

"ځینې وخت زموږ دښمن په سیاسي، نظامي او داسې نورو ډګرونو کې زموږ له بېباناکه او ناعاقلانه ژبې، سوال، تحلیل، څرګندونې او ګوتنیونې څخه زموږ د پلانونو منځپانګه زموږ له یوې جملې څخه هم اخیستلای شي؛ نو دې ته مو باید پام وي چې هرې پوښتنې ته ژور فکر وکړو، ځان پرې پوه کړو او عاقلانه ځواب وواېو.(۱۰)

چې عاقلانه ځواب طبعاً د ادب دنده ده او په دې ډول ادب موږ له تېروتنو او په پایله کې له ملي زیانونو څخه ژغوري.

هر ډول لیکنه، وینا، خبر، اعلامیه او نور چې په ادبي اصولو برابره وي، مفهوم ژر لېږدوي، لوستونکي او اورېدونکي پرې ښه پوهېږي او په ټولنه کې عام مقبولیت مومي. ټول خلک او لیکونکي د خپلې وینا، لیکنې او خبرې عام مقبولیت غواړي، چې دا مقبولیت په ادب پورې تړلی دی؛ نو هر ژورنالیست یا بل کس چې د خپلې وینا، لیکنې او خبرې عام مقبولیت غواړي، باید په ادب پوه او له ادب سره اشنا وي.

هره ژبه ځانګړې جوړښت او ځانګړي قواعد لري، د یوې ژبې قواعد یا ګرامر په بلې ژبې تطبیقېدلی نه شي؛ نو ژورنالیست او لیکوال باید د هغې ژبې له جوړښت او ګرامر سره ښه اشنا وي، چې دی پرې لیکنې او ویناوې کوي. که ژورنالیستیکي ژبه له ادبي ښېګڼو بې برخې وي؛ ښایي په ډېرو ځایونو کې د مثبت پرځای منفي او ناسم مفهوم ولېږدوي. ژورنالیستان د جملې مبتدا او خبر ته زیاته توجه نه کوي. د جملو له ښکلاوو سره ډېر کار نه لري. د الفاظو او عباراتو د پېرایې او سینګار پروا نه لري؛ خو ادیب تل همدغو شیانو ته د لومړیتوب حق ورکوي.

باید ژورنالیست په دې پوه وي چې مبتدا سره د خبر لنډ په لنډه راتګ ضروري دی، ځکه مفهوم ښه، سم او چټک لېږدوي چې دا د ادب ښېګڼه ده؛ د ساري په توګه لاندینۍ جملې په پام کې نیسو:

"۱- «یوه ښې اړخي افراطي یهودي نن شپه د اسرائیلو لومړی وزیر اسحق رابین په داسې یوه غونډه کې چې د سولې لپاره تر سلو زرو زیات وګړي هم په کې ګډونوال وو، په طله بیب کې جوړه شوې وه په ګولۍ وویشته او ویې واژه چې د اسرایلو دولت او د منځني ختیځ د سولې بهیر یې له ستونزو سره مخامخ کړ".(۱۱)

له ادب سره د اشنایي په صورت کې د پورتني پارګراف متن داسې هم لیکل کېدای شي:

یوه ښي اړخي افراطي یهودي نن شپه د اسرائیلو لومړی وزیر اسحق رابین په هغې غونډې کې په ډزو وواژه چې د سولې لپاره په طله بیب کې جوړه شوې وه او تر سلو زرو زیات کسان یې ګډونوال وو. دې پېښې د اسرائیلو دولت او د منځني ختیځ د سولې بهیر یې له ستونزو سره مخامخ کړ.

تر پورتني پاراګراف لاندينى ځکه غوره دی چې د مطلوبې او مهمې جملې مبتدا او خبر سره نږدې راغلي دي او لوستونکی لنډ په لنډه پر اصل موضوع خبروي. همدارنګه يې جملې د تړاو له مخې سره سمې ترتيب او تنظيم شوې دي. لومړۍ جمله له دوهمې سره اړيکه لري؛ خو که څېړې رانشي نو د لومړۍ جملې مفهوم ته کوم زيان نه رسوي؛ نو بايد جمله پای ته رسېدلې وي چې د پای ته رسېدو نخښه يې ټکی(.) دی.

" ۲. «د فعل زمانې ته پام نه کول، لکه په دې بېلګه کې: (نيويارک ټايمز په خپلې پرونۍ ګڼې کې د افغانستان په اړه مقاله ليکلې ده او په يوه برخه کې يې ليکي:...) دلته لومړۍ جمله د تېرې زمانې خبره کوي«ليکلې ده»، خو دوهمه د اوسمهال«ليکي». په داسې مواردو کې ښه به دا وي چې په دواړو جملو کې د عين زمانې فعلونه وليکو مثلاً په دې مثال کې بايد دوهمه جمله داسې وليکو:(په يوه برخه کې يې ليکلي دي) ښايي ژورنالستان د فعل د تکرار د مخنيوي په هدف د فعلونو زمانې بدلوي. لکه په دې بېلګه کې چې «ليکي» ژر تکرار شوی دی، خو موږ د فعل تنوع په بله لاره هم پيدا کولی شو. د دوهمې «ليکلي» پر ځای «راوړي دي» مناسب بديل ګڼلی شو.»(۱۲)

۳. د اشنا راډيو انټرنټي پاڼې په يوه راپور کې داسې ليکلي دي:« افغانستان په لسو ولايتونو کې د پوليو يا ګوزڼ ورځنی فرعي کمپاين پيل شو.»

اوس د (د) حذفول يو موډ ګرځېدلی دی، خو په پورتني متن کې يې د يوه راپور عنوان ځومره بې خونده کړی او کېدای شي چې د همده يوه (د) له امله ټول راپور څوک و نه لولي. دا جمله بايد په دې توګه وليکل شي: د افغانستان په لسو ولايتونو کې د پوليو يا ګوزڼ ورځنی فرعي کمپاين پيل شو.

۴. د دريو تنو ملکي وګړو په ګډون پنځه تنه امريکايي پوځيان ووژل شول.

" دلته (په ګډون) د انګرېزي ژبې د (including) ناسمه ژباړه ده چې په فارسي کې هم همداسې ناسم ژباړل کېږي. دا جمله په انګرېزي کې داسې معنا ورکوي چې په وژل شوو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امريکايي پوځيان شامل دي، خو (په ګډون) د جمع کولو او سره يو ځای کولو معنا لري. په دې جمله کې ملکي وګړي او پوځي امريکايان سره يو شان ګڼل شوي دي. د جملې سمه بڼه دا ده: ۱اته تنه وژل شوي چې درې يې ملکي وګړي او پنځه تنه يې امريکايي پوځيان دي.) دا بله بڼه يې هم ستونزه نه لري:( په وژل شويو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امريکايي پوځيان شامل دي.(۱۳)

۵. د ژورناليزم په ډګر کې له ژبې او ادب سره د بلدو او وړ کسانو نشتون چې بل زيان رامنځ ته کړی هغه دا دی چې ډېر وخت پښتو رسنۍ د خبرونو او نورو مطالبو په وړاندې کولو کې مخکښې نه دي؛ نو له دې امله پښتو د ژباړې د ژبې په توګه کارېږي او بيا په رسنيو کې د داسې مسلکي کسانو کمی

هم دی چې د خپلې ژبې په جوړښت او د ژباړې په اصولو ډېر برلاسي نه دي؛ ځکه دا کار ډېرې ژبنۍ ستونزې زېږوي، د بېلګې په توګه:

**اردو:** قبايلي علاقوں میں مسلح طالبان موجود هے.

**دري:** طالبان مسلح در مناطق قبايلي وجود دارد.

نو په پښتو کې به داسې ليکي: په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شتون لري.

" خو که هسې اضافه او يو نا اشنا ترکيب په خپله ژبه کې رواج نه کړو او د نورو ژبو جوړښت په خپله ژبه و نه تپو؛ نو بايد داسې وليکو: په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شته. او که وغواړو چې په خپله خبره ټينګار وکړو له(شته) وروسته (دي) راوړو: په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شته دي".(۱۴)

۶- جمهور رئيس غني د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کليزې پر شانداره نمانځلو ټينګار وکړ".(۱۵)

په پورتنۍ جمله کې دوه ژبنۍ نيمګړتياوې شته دي: يوه دا چې کليزه د (کال + يزه) ترکيب دی نو بايد په همدې ډول وليکل شي، ځکه د(الف) د حذفولو لپاره کوم موجه دلايل نشته. دوهمه دا چې (شانداره) د (نمانځلو) له کلمې سره نه دی ګردان شوی، خو په پښتو کې قيد او صفت دواړه د خپل مقيد او موصوف لپاره ګردانېږي؛ نو جمله بايد داسې وای:

جمهور رئيس غني د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کاليزې پر شاندارو نمانځلو ټينګار وکړ.

۷- جاپان د کرنې د پراختيا لپاره له افغانستان سره همکاريو ته زور ورکوي

پورتنۍ جمله د ژباړې بڼه لري، د پښتو ژبې له طبيعي جوړښت سره پوره سمون نه کوي، (همکاري) هم ګډ کار ته وايي نو له دې دا مفهوم هم اخيستل کېدای شي چې جاپان د کرنې په برخه کې د افغانستان سره ګډ کار کوي، په داسې حال کې چې دلته د ليکونکي موخه اقتصادي او تخينکي مرستې دي او همکاري د مرستو معنا نه لري. (زور) هم زياتوالي ته نه ويل کېږي، حال دا چې د ليکونکي موخه د مرستو زياتوالی دی؛ نو جمله بايد داسې ليکل شوې وای:

جاپان د کرنې د پراختيا لپاره له افغانستان سره مرستې زياتوي.

"۸- د اطلاعات او فرهنګ وزارت د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کليزې د پرتمينو لمانځلو لپاره تياري نيسي.(۱۶)

په پورتنۍ جمله کې د( اطلاعات) کلمه بايد په( اطلاعاتو) واوړي، ځکه کله چې ترې دمخه (د) راشي بيا اطلاعات په اطلاعاتو اوړي. د کليزې پر ځای هم بايد کاليزه راغلې وای چې مخکې هم پرې بحث وشو. اديبوهان اوسمهال د (لمانځلو) او (نمانځلو) تر منځ هم توپير کوي او هغه دا چې(لمانځل) د عبادت انډول او (نمانځل) د ستايلو، تقديرونو او خوښي کولو په معناوو کاروي.

نو دا جمله باید داسې وای:
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کالیزې د پرتمینو لمانځلو لپاره تیاري نیسي.
۹- کرکټ بورډ نړیوال جام ته د لوبغاړو د غوراوي په خاطر د شپږیزې سیالۍ په لاره واچولې.
له بده مرغه چې تر اوسه هم پښتو له ژباړلې د لیکلو ډګر ته راونه وتله، پورتنۍ جمله هم له دري ژبې د ژباړې بڼه لري. زما په اند پښتو لیکوال او لیکونکي باید د خپلې ژبې جوړښت او څرنګوالي ته کلک پام وکړي. پورتنۍ جمله په کره پښتو داسې لیکل کېدای شوه:
کرکټ بورډ نړیوال جام ته د لوبغاړو د غوراوي لپاره د شپږیزې سیالۍ پیل کړې( ترسره کړې).
۱۰- ولسمشر غني د کابل پوهنتون څخه لیدنه وکړه.
دا جمله هم کټ مټ له دري ژباړه ده، باید چې د پښتو طبیعي محاوره په پام کې ونیول شي او ژبه له ولس څخه واټن پیدا نه کړي. دا جمله باید داسې وای:
ولسمشر غني د کابل پوهنتون وکوت.

## پایله

که څه هم د ادب او ژورنالېزم ترمنځ داسې ګڼ ټکي شته چې دا دواړه یې سره ډېر نږدې کړي دي، خو موږ نشو کولای د هغو پر اساس دا دواړه علمونه یو شی وګڼو. دا ځکه چې د دې دواړو علمونو ترمنځ داسې بېل ټکي هم شته چې دا دواړه علمونه له یو بله جلا کوي؛ نو ویلای شو چې ادب او ژورنالېزم جلا جلا علمونه دي؛ خو بیا هم سره لازم او ملزوم دي.
په دې اړه د هېواد نامتو ژورنالیست او سیاستوال عبدالجلیل وجدي لیکلي دي:

> "په لنډه توګه ویلای شو چې یواځې د تنوع او ویرایتې په کوڅو او دهلېزونو کې ژورنالیستیکي لیکنې له سمبولیکو او علاماتي ادبیاتو څخه خپله لاره بېلوي؛ خو د ادب له چوکاټ څخه نه وځي. لکه څنګه چې په یوه دهلېز کې شعر و شاعري، ناولونه، لنډې کیسې، ډرامې او داسې نور ادبي اصناف یو له بله څخه لارې بېلوي، ژورنالیزم هم تر هماغه دهلېز پورې له نورو ادبي اصنافو سره د خپلو هنري په تېره بیا د فېچري لیکنو په مرسته ملګرتیا کوي چې په بشپړه توګه له یو بل څخه د ژورنالیزم او ادب نه بېلتون په ژورنالیزم کې د ادب ارزښت څرګندوي".(۱۷)

## حوالې


۱- ایس ایم شاهد ، د ژورنالیزم مطالعه، ژباړن امیر جان وحید احمدزی، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۵ل. ۸۵مخ.

۲- پورتنی اثر، ۸۶ مخ.

۳- رښتین، صدیق الله، د پښتو ادب تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد ، څلورم چاپ ۱۳۹۱ل، ۹ مخ.

۴- روهي، محمدصدیق، د پښتو ادبیاتو تاریخ، ۱۴مخ.

۵- احمدزی، محمدآصف، طنز په پښتو ادب کې، د افغانستان دعلومو اکاډمي، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹۷ل. ۱۵۴-۱۵۵مخونه.

۶- پورتنی اثر، ۱۵۶مخ.

۷- (.www.tand.com) ۲۰۱۷م د جنوري ۶مه

۸- احمدزی، محمدآصف، طنز په پښتو ادب کې، د افغانستان دعلومو اکاډمي، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹۷ل. ۱۵۵مخ.

۹- ناظم، محمدداؤد، د انیس ملي جریده او دعامه ذهنیتونو په روښانولو کې د هغې ونډه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۹۳ل. ۲۲۰مخ.

۱۰- بروس دی ایتول، تود خبر او سوړ خبر، ژباړن ببرک میاخېل مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۸۷ل. ۹مخ.

۱۱- حریفال، رحیم الله، معیاري ژبه او رسنۍ، علمي- څېړنیز کنفرانس، ۱۳۹۷ل.

۱۲- ځیرک، رحیم الله ، لومړیتوب، د ادب څانګه، د ادب او ژورنالیزم بېلتون، (. www.tand.com) ۲۰۱۷م د جنوري ۶مه.

۱۳- زغم، محب، د خبریالانو ځینې ژبنۍ تېروتنې، مقاله. (www.tand.com)

۱۴- (هېواد ورځپاڼه ۲۶/۴/۱۳۹۸ چهارشنبه. ۹۱مه ګڼه، پر له پسې۴۵۷۶مه.)

۱۵- (هېواد ورځپاڼه ۲۶/۴/۱۳۹۸ چهارشنبه. ۹۱مه ګڼه، پر له پسې۴۵۷۶مه.)

۱۶- (هېواد ورځپاڼه ۲۶/۴/۱۳۹۸ چهارشنبه. ۹۱مه ګڼه، پر له پسې۴۵۷۶مه.)

۱۷- وجدي عبدالجلیل، د خبر نظر نړۍ، د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه: کابل، کاروان مطبعه، ۱۳۸۷ل. ۱۸۱مخ.